


**E-ISSN:** 2706-8927
**P-ISSN:** 2706-8919
www.allstudyjournal.com
IJAAS 2020; 2(1): 214-221
Received: 18-11-2019
Accepted: 22-12-2019

پوهندوی خان سلام شینواری
*ژبو او ادبیاتو پوهنـــــځی*
*پښتو ژبې او ادب څــانـګه*
*ننګرهار پوهنتون-افغانستان*

# د معاصر پښتو ادب ځلورو شاعرانو په نظمونو کې پښتو پالنه

**پوهندوی خان سلام شینواری**
***ژبو او ادبیاتو پوهنـــــځی***
***پښتو ژبې او ادب څــانـګه***
***ننګرهار پوهنتون-افغانستان***

**لنډيز**
ددې څېړنې بنسټيزه موضوع په پښتو معاصر ادب کې د پښتونولۍ څېړنه ده، پر همدې بحث شوی دی. دا چې د پښتو ادب لمنه ډېره پراخه ده نو دلته د يو څو مخکښو شاعرانو په نظمونو کې د پښتو پالنې نمونې راوړل شوي دي. په دغو شاعرانو کې قيام الدين خادم، محمد امين ملنګ جان، حمزه شينواری او وزير محمد ګل خان مومند غوره شوي دي. د نوموړو شاعرانو د شعرونو هغه برخې په ګوته شوي، چې پښتني ننګ او غيرت يې پکې ستايلی دی.
دغه موضوع په سريزه پيل شوې، چې د سريزې ملي برخې هم لري. د اصل موضوع وروسته پايله او د اخځونو نوملړ هم پکې ځای پر ځای شوی دی.

**سريزه**
شعر او شاعري او يا په ټوليزه توګه ليکوال او ليکوالي د يوې ټولنې هغه شتمني او سرمايه ده، چې د يوې ټولنې معنوي پانګه ساتلی او توضيح کولای شي. د يوې ټولنې په ارزښتونو، کټو، تاريخ، فرهنګ، دين او غيرت له هر چا نه ښه پوهيږي او که دغو خواوو ته ځوک زيان رسوي، نود هر چا څخه د مخه يې دوی غبرګون کوي.
تر ډېره هغه څه چې د ټولنې نور وګړي يې نه شي ځرګندولای، دوی يې خبر او د راتلونکيو نسلونو پوهېدا او هغو ته ساتل يې خپله دنده ګڼلې او ګڼي يې.
دا چې د هرې ژبې ادب له هر څه وړاندې د هماغې ټولنې په بېلابېلو خواوو رڼا اچوي،چې يوه غوره او لويه برخه يې د يوې ټولنې کلتوري او دوديز ارزښتونه دي. پښتنو شاعرانو د پېړيو په بېلابېلو پوړيو کې دغه برخه ډېره پاللې ده، چې ښه بېلګه يې د اميرکروړ شعر دی،چې هلته په کې په لومړي سر کې د "اتل"، ننګ او غيرت خبرې شوي دي. همدارنګه خوشحال خان ختک، عبدالحميد مومند، عبدالرحمن بابا او نورو په دې برخه کې خپل شعري ځواک ازمايلی دی.
پښتو معاصر شعر کې دغه برخه ډېره پال شوې، چې له هر چا وړاندې پکې قيام الدين خادم، حمزه شينواری، محمد امين ملنګ جان او وزير محمد ګل خان مومند تګ کړی دی.

**کليدي توکي:** معاصر پښتو ادب، پښتو پالنه، پښتونولي، جرګه، ننګ او غيرت

**موخه**
په پښتو شعر او ادب کې د پښتو پالنې په اړه د بېلابېلو شاعرانو شعرونو موندل او پر هغوی باندې تاريخي او تشريحي کره کتنه کول.
دغه څېړنه به ځلورشاعران په ګوته کړي، چې په خپلو شعرونو کې يې پښتو او پښتونواله پاللې ده.

**Corresponding Author:**
پوهندوی خان سلام شینواری
*ژبو او ادبیاتو پوهنـــــځی*
*پښتو ژبې او ادب څــانـګه*
*ننګرهار پوهنتون-افغانستان*

(۹: ۴۶۶ ـ۴۶۷)

په پورتني نظم کې دپښتو غیرت او ممیزات ستایل شوي او پرهغو وياړ کوي دا نظم د ډېرو نامتو او مطرح نظمونو له جملې څخه دی.

استاد خادم په يوه ځلوريزه کې دانګريزانو ماتې ته اشاره کوي،سره له دې چې پر ماتې خوښ بربښي خو وايي چې داماته هم پښتنو ته په يو فساد او غټ زيان بدله شوه.

انګریز غمجن شو، چې دلته مات شو
دافتحه نه وه مونږ ته پسات شو
په مغولواله کې قام ژوندی و
چې انګريز لاړو پښتون ميرات شو

خادم دنورو پښتنو شاعرانو په شان د پښتنو يوې دايمي ناروغۍ (قومي تفرقې) ته هم نغوته کړې، دا هغه ناروغي ده چې دنرې رنځ حيثيت لري او پښتانه يې ټول کړولي، هغه وايي:

پښتون چې بيل شو افغان چې بيل شو
جوړ په وطن کې يو تپل ما تپل شو
امپرياليزم همدا غوښتله
ازاد افغان په اسانه ښکېل شو

دافغان ملت پالنې ديوې اساسي برخې په توګه پښتانه او پښتونولي د خادم دافکارو يو مهم عنصر ګڼل کېږي او په دې برخه کې محوري نقش لري، دغسې پښتانه او پښتو نستان هم دافغان ملت دلويې داعيې او دملت پالنې ديوې اساسي برخې په توګه مطرح دي. دی دخپلو اثارو او افکارو يوه درنه برخه پښتو، پښتونولي او پښتونستان ته وقف کړې ده. پوهاند ريښتين د ده په باب وايي: (( خادم د پښتو ژبې يو نوميالی ليکوال او په زړه دردمن شاعردی، دده ټول درد د پښتو او پښتون له غمه و.د خادم په اشعارو کې دبيدارۍ، د پښتو او پښتونولۍ، چغې، قومي ترانې، د ژوند پيغامونه او داسي نور مطالب په ښه شان بيان شويدي.)) خادم د پښتو او پښتنو په اړه ډېرې ليکنې کړيدي، چې په يو ځای کې يې ليکنه داسې ده:

د دنيا په يوه ډېر رزيل قوم باندې به هم د دنيا يو ډېر زورو او جابر قوم هم داسې لوبې ونه کړي،لکه نن يې چې پاکستاني مشران په شريفو پښتنو کوي او له ټولو څخه خندا او استهزا داده چې د پاکستان پروپاګنده منابع بيا لا هم د پښتنو دوستی ته تمه لري.

تل ناري وهي چې پښتانه او پاکستانيان سره ورونه دي او د دوي تهذيب، مذهب او ثقافت سره شريک دي، که ورورې د دوی په قول صحيح وي، نو په ورونو خلک داسې کوي چې دکافرو زړه هم وربانديې خوږ شي او وربانديې وژاړي؟ مګر اصله خبره داده چې د پښتنو مذهب سوچه مسلماني ده او د پاکستان واکوالان په ژبه ټينګ ولاړ نه دي، ژبه او مذهب خو يې سره دومره لرې دي چې هر څوک پرې پوهيدای نه شي او پاکستان د نن پښتو ژبه او تهديب محوه کول هم غواړي او دغه کوښښ کوي چې ښه نو څنګه به شي دا دوستي؟)) (۹: ۴۹۶- ۵۰۰)

## مېتود يا کړنلاره

د دغې څېړنې مېتود تشريحي دی، چې لومړی ورته اړين اخځونه را غونډ شوي او بيا پکې اړونده موضوع له ژورې مطالعې وروسته په نښه شوې ده .ديادې څېړنې بنه کتابتوني ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱- ايا په پښتو شعر کې د پښتو پالنې بېلګې شته دي؟
۲- دغې موضوع له کله راهيسې شعر ته لاره موندلې ده؟
۳- معاصر ادب کې يې مخکښان څوک دي؟

## د موضوع ارزښت

د هرې ژبې په شعر او شاعرۍ کې ورته موضوعګانې شته دي او که ووايو، چې شعر او شاعري له همدغو موضوعګانو څخه جوړه ده، مبالغه به نه وي. پښتو شعر هم له دې موضوعاتو ډک دی، خو دغه موضوع پر دې موخه او مفهوم چا تر اوسه نه ده څېړلې.

دغه موضوع به د پښتو شعر په نورو دورو کې نورو څېړنو ته لاره هواره کړي، چې د تېرو شعرونو له مخې به د پخواني او اوسني کلتور او ادب توپيرونه او ورته والی په ګوته شي.

## د قيام الدين خادم په اشعارو کې پښتو پالنه:

قيام الدين خادم د پښتو معاصر ادب يوه نوميالی څېره ده چې په نثر او نظم کې زيات اثار لري. ده په خپلو څېړنيزو اثارو سربېره د پښتنو پر نسب باندې هم تاريخي څېړنې کړېدي.

خادم د اخونزاد ګانو کورنی ته منسوب په قوم زاخېل دی چې بيا پر مومندو ورګډېږي. په (۱۹۰۶م) کال د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالی کې زېږيدلی دی.دپلارنوم يې ملا حسام الدين او دنيکه نوم يې ملا علي ګل اخونزاده و چې په ديني علومو کې لوی عالم و.

لومړۍ زده يې په کامه کې د لومړني ښوونځي د ښوونکي په توګه وه. د ((اوسني ليکوال)) مؤلف عبدالروف بېنوا ليکي چې: ((ښاغلی قيام الدين خادم په اوسنيو پښتو ليکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري او دافغاني پوهانو او اديبانو په لومړۍ ډله کې دربېږي)).(۳: ۳۲۹)

خادم د پښتو، پښتونولي او دهېواد له ترقی سره ډېره مينه درلوده، دښو احساساتو خاوند و او د لهجې صراحت يې درلود. ښاغلي خادم مختلفې دندې سرته رسولي چې د ټولو يادونه ډېره اوږده ده، دده ۳۰ ديرش ځانګړي آثار چاپ شويدي او (۲۶) يې ناچاپ دي ليکنې يې په نظم او نثر دواړو کې کړي. دی د ويښ زلميانو له مؤسسينو څخه و، په (۱۹۷۹م) کال مړ او په خپله پلرنی هديره (کامه) کې خاورو ته وسپارل شو.

د (نارينتوب) په نامه، نظم کې خادم د پښتنو ځانګړنو ته اشاره کوي:

زه پښتون يم، زما کار دی نارينتوب
راښودلی مورو پلار دی نارينتوب
توره، سپر، توپ و توپک زما ګانه ده
بس زما ډول وسينګار دی نارينتوب
د خادم دغه سبق د نارينتوب دی
ښه يې زده کړه مزه دار دی نارينتوب

بل عیب دی نشته اوس بیا قسم خورم
(۹: ۵۴۶)

**وزیر محمد گل خان مومند او په پښتو ادب کې یې پښتو پالنه:**

ښاغلی محمد گل خان د محمد خورشید خان زوی، دمومن خان لمسی، په قوم مومند په (۱۸۸۴م) کال د کابل په اندارابیو کې زیږېدلی، اروابناد مومند په اوسني وخت کې د پښتو او پښتونولۍ دیوه درانه مشر، مبتکر لیکوال او شاعر په توګه په پښتني نړۍ کې پیژندل شوی، ده په (۱۹۳۴م) کال دلومړي ځل لپاره په کندهار کې (پښتو انجمن) جوړکړاو لومړۍ پښتو مجله هم ددغه انجمن په څنګ کې خپریدله. (۶: ۱۵۵)

په (۱۹۳۷م) کال یې د پښتو یو لوی قاموس د (پښتو سیند) په نامه ترتیب او له یوې مفصلې مقدمې سره یې چاپ او خپور کړ، بیا یې د پښتو د قواعدو او ګرامر یوګټور کتاب ( دپښتو لیار) په نامه ولیکه، یو بل اثر یې (لنډکی پښتو) ده چې په (۱۹۴۸م) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوه، په دې رساله کې د مرحوم مومند هغه نظریات لیکل شوي چې د پښتو او پښتونولۍ په باب یې درلودل.

مرحوم مومند په پښتو لیکلو او پښتو ویلو کې د سوچه والي کلک طرفدار و، او دکوم څیز لپاره به یې چې په پښتو کې لغت بیا موند، نو د پردي لغت استعمال ورته ادبي کفر ښکارېده. مومند بابا په (۱۹۶۴م) کال کابل کې په پردي کرایي کور کې وفات شو.(۳: ۱۰۷۷، ۱۰۷۸)

د مومند بابا په ټولو اثارو کې د پښتو او پښتونولۍ ستړې هیلې له ورایه ځلیږي او یوه پاکه پښتني ارزو پکې پرته ده.

دده د نثر او نظم ښیګڼه د معنا او مطلب له مخې ملې، سپېڅلې او غوره لیکنې دي او پښتو سره دمیني قوت په پوره اخلاص ځان ښکاره کوي.

دده دلیکنو مطلب څرګند او روښانه دی، عبارات یې درانه، اغیز ناک او دملي احساس نه ډک دي.

مومند بابا د شعرپه نسبت نثر ته ډېر ارزښت ورکاوه او هغه نثر یې ډېر خوښاوه، چې د پښتو په خپل خاص رنګ کې لیکل کېده، دده لیکنې زیاتره په نثر دي او نظم یې لږ لیدل شوی دی.

دمومند بابا دهغو نظمونو بېلګې چې د فورم او محتوا له مخې په کې پښتو او پښتونواله یاده شوې. لاندې شعر کې پښتنو ته درس ورکوي چې په اسلام ، پښتو او پښتونواله باندې کلک واوسئ.

وخت چې راغي دپښتو دنوم او ننګ
پښتنه وم ځان مې مر که په فرهنګ
چې پښتون وي او مېره وي څنګه کاندي
دظالم زورګیر انګریز له جنګه څنګ
(۴: ۲۴۴)

پورتنی شعر د شکل له مخې (څلوریزه) ده، د پښتو ژبې سوچه لغات پکې کارېدلي، او دیوې پښتنې له خولې چې د وطن په لاره کې یې د شهادت لوړ مقام ګټلی لکه دمیوند ملالله داسې ناره کوي او وایي چې کله د پښتو اوغیرت وخت راغی، ما په پښتو او ننګ باندې غیرت وکړ او ځان مې په انګریزانو باندې

افغان او افغانیت دده د افکارو او نظریاتو محور جوړوي او ده برې لسګوني لیکنې کړي، دغسې یې نظم کې هم دا موضوع په لسګونو ځایه یاده کړېده، دافغانیت پر اوسني حالت چې ده ته ښه نه ښکاري افسوس کوي او وایي چې مونږ باید پرې ټول راټول وای او له لاسه مونه وای ورکړی، دی وایي:

کاشکې غیرت مو مړ شوی نه وای
کاشکې همت مو مړ شوی نه وای
په پښتونواله واړه راغونډ وای
افغانیت مو، مړ شوی نه وای
(۹: ۵۲۴)

خادم صیب دملت د ښمنانو ته خطاب کوي، هغوی ته ګوت څنډنه کوي چې دملت له تجزیې لاس واخلي او افغانان دیو واحد ملت په توګه ارام پریږدي:

ټول یو افغان دی، ټول یو پښتون دی
تاچې کوم فکر کړی زبون دی
ټول یو وحدت دی، تاتجزیه کړ
په لوی ملت دي کړی شبخون دی

دملت یووالی دده ستر ارمان دی، نو ځکه خو یې ورته هر وخت د (توحیدشعار) ورکړی او پر یو والي یې ټینګار کړی دی:

دا یو وطن دی، افغانستان دی
یو یې ملت دی نوم یې افغان دی
دملـــــت ژبــــه خــــــوږه پښــــتو ده
ددین له مخې ټول مسلمان دی
(۹: ۵۳۶)

خادم صیب پر افغانانو باندې د سختې ورځې ازموینې ته هم اشاره کوي او وایي چې سختی ته هر څوک نه شي ټینګېدلی او نن دامتحان ورځ ده، معلومه به شي چې څوک له دې امتخانه بریمن راوځي:

نوبت راغلی، دامتحان دی
نن په افغان او افغانستان دی
بې پښتو کله، ورته ټینــــــــــــــــګېږي
نن به معلوم شي، چې څوک افغان دی
(۹: ۵۴۳)

استاد خادم د زړه له تله پر افغانانو غږ کوي چې ستاسو دسوکالې او پرمختګ لاره قلم او کتاب دی، نور عیبونه نه لري، که همدغه مشکل مو حل کړ، نو دسوکالې پوړی ته به ورسېږي، پردې یوه څلوریزه باندې هم خورا لوی بحث کیدای شي، ځکه د افغانانو اصلي مشکل همدا فرهنګي فقر دی، کله چې دوی له قلم او کتاب سره روږدي شول، ددوی د ژوند ډېر مشکلات پرې حلیدای شي:

قسم په لوح او بیا په قلم خورم
افغانه ستا، داعتلا غم خورم
قلم را پورته کتاب کړه مچې

د پورته شعر د بیتونو شمېر ۱۴ ته رسېږي، لومړی بیت یې مصرع او نور ټول غیر مصرع دي. د شکل له مخې د غزل فورم لري. دمطلع هم اهنګه برخه یې (تایم) او (ستایم) ده چې دقافیې کلمې دي.
که وم وم که نه وم نه وم)) برخه یې ردیف دی.
د محتوی له مخې که شعر ته وکتل شي اصلي موضوع یې (پښتو) ده، ځان په پښتو مین ګڼي، په دې لار کې له هر څه تېر دی، ځکه په ښکاره ناري وهي او وایي: که وم وم که نه وم نه وم. د پښتنو د راویښولو لپاره ځان د پښتو د بڼ چوڼی بولي او دپښتو په تګ سره ځان تالا بولي. په خپله پښتونواله اعتراف کوي، د پښتو خدمت د زلمو دنده بولي او ځان ورته بوډا معلومېږي، ولې بیا هم غلیم ته په میدان درېږی او دهغې ورځې په انتظار دی چې حساب ورسره وکړي.
دخپلې پښتو لیلا په وړاندې د مجنون لیلا ته دوینځې مقام هم نه ورکوي او دنړۍ ټولې ښایستې له خپلې ښایستې نه جاروي او تر مرګه په دې هوډ کلک ولاړ دی.
دغه راز وایی که پښتو خوشې کړم بیا به بېړا واوسم، په پای کې ځانته دقام خادم وایي اوپه ختېه او قوم ځان پښتون ګڼي، یعنې سوچه پښتون او په اصل او دنسب په سلسله کې ځان ته اریا وایي او دغه اصل باندې ویاړي.

**محمد امین ((ملنګ جان)) او په پښتو ادب کې یې پښتو او پښتونواله!**

ملنګ جان چې اصلي نوم یې محمد امین و په ۱۹۱۴ م کال کې د ننګرهار ولایت د بهسودو والسوالۍ په چمیار کلي کې زیږېدلی و. دهغه پلار ملک عبدالشکور نومېده چې یو قومي مشر و. ملنګ جان د پښتونستان لپاره د سندرو او شعرونو په ویلو نوم پیدا کړ، هغه تعلیم نه درلود چې لامل یې په درې کلنۍ کې دهغه د پلار مړینه ښودل کیږي.
لعل پاچا ازمون دهغه په اړه وایي:
((ملنګ په پیل کې د نورې شاعرۍ په څنګ کې دیني او مذهبي او له پنده ډکه شاعري کوله. دده نظمونه د نورو ولسي ناظمانو په څېر دقام د بیدارۍ لپاره وقف و.))
ملنګ جان دشعر ویولو پیل له ډېرې ځوانۍ کړئ و، ملنګ جان له عروضی یا دیواني شاعرۍ سره بلد نه و، ده هم هغه مهال په ملي وزنونو برابر خپل نظمونه وویل.
له راپاتو لیکنو داسې ښکاري چې ملنګ جان غریب ژوند درلود. له همدې وجې به کله د ننګرهار په کامه او کله په کونړ کې اوسېده، که څه هم دهغه وخت حکومت له ملنګ جان سره یو څه مرستې کولې خو دا ډېرې نه وې. د دولت له خوا ورته د میاشتې ۶۰۰افغانۍ معاش وټاکل شو، دا وخت ملنګ جان د خپل هغه احساس، عاطفې او مینې له مخې چې له خپلې خاورې سره یې لرله ځینې شهکارې ملي ترانې وویلې چې یوه هم پکښې دا مشهوره سندره وه چې دخلکو د بیدارۍ او په پښتنو کې دخپلو حقونو لپاره د مبارزې د پیداکولو په لار کې له هڅونکو سندرو څخه یوه وه.

پښتون زوی دبابا یم
ولاړ یم په میدان
مزبوته ملاتړلی
مړ کړ، هغه څوک چې پښتون او نارینه وي، هغه به څنګه له یو ظالم او زورګیر انګریز نه څنګ وکړي.

**پښتونواله**

نیکه پلار مې پښتانه وو یم پښتون
ځمری یم ځمرځی یم ځمر بون
زه پښـــتون یمه ښـــــکاره یم لکه لمـــر
وغلیم ته تل ولاړ یم لکه غر
په غلیم باندې چې راشي زما وار
اسماني تندر به وي ځما ګوذار
پښتانه او پښتونواله دې وي تل
له پخوا نه یو په لس اویو په سل
(۴: ۲۴۵، ۲۴۶)

پورتنی شعر د شکل له مخې مثنوی ( دوه بیز) دی چې هر بیت یې ځان ته قافیه لري او مصرع دی. له څو محدودو کلموغیر په شعر کې د پښتو سوچه لغات کارېدلی دی. دمحتوی له مخې یې شعر ویاړنه ده چې دامیر کروړ له ویاړنې اغیزمن ښکاري.
محمد اسماعیل یون په خپل اثر (( دمحمد ګل خان مومند اند او ژوند ته یو کتنه)) کې د مومند د شاعرۍ په اړه لیکی: ((تراوسه چا د محمد ګل خان مومند ځانګړو تخلیقی ادبي اثارو په باب څه نه دي لیکلی خو دشعرونو پخې ببلګې یې په لاس کې شته چې مومند صاحب د لوړ استعداد خاوند ؤ.
که مونږ د وزیر صیب دې شعر او ځینو نورو شعرونو ته په ژور نظر وګورو، نو وینو چې شعرونو کې هم د پښتو پالنې، هیواد پالنې او پرځان د باور پیاوړې روحیه لیدل کیږي. د دښمن پر ضد جنګ ته دځمري په څېر ور درومي، د خوشال بابا غوندې دغره په شان ورته په مخ کې ودرېږي. او دامیر کروړ په څېر د جنګ په میدان کې خپله توره چلوي، خپله خپلواکي له چانه په زاریو او خیرات نه غواړي او دا لوی نعمت د تورې او ډال پواسطه خپلوي هغه لکه یو دردمن مین له پښتو سره مینه لري، پر پښتو مین دی. په لنډ ډول ویلی شو چې شعرونه یې په شکلي لحاظ ساده، عام فهمه او د پښتو په ځانګړو وییونو ښکلی کړای شوي دي او په محتوا یي لحاظ یې پښتو ، پښتونولی، هېواد پالنه او ملت پالنه د شعرونو مرکزي فکر جوړوي.)) (۴: ۲۴۷)
د اروابناد مومند بل شعر چې په (۱۹۴۸م) کال د کابل مجله کې خپور شوی او پښتو او پښتونواله له ورایه پکښې ځلیږي.

پښتو مین په تایم که وم وم که نه وم نه وم
هر کله به دې ستایم که وم وم که نه وم نه وم
پښتو د بڼ چوڼی یم شور به کړمه پښتنو ته
تل د وی ته په وینا یم که وم وم که نه وم نه وم

که خوشې کړم پښتو بې پښتو ګي کړمه زه غوره نن
نو خوشې به بېړا یم که وم وم که نه وم نه وم
که خوږ ژوندون مې پلورم او پردو لپاره مې ځان وژنم
نو پوهې کې سنډا یم که وم وم که نه وم نه وم
په ختېه سپین پښتون یم محمد ګل دقام خادم یم
له ستې نه اریا یم که وم وم که نه وم نه وم
(۴: ۲۴۲، ۲۴۳)

په همدې ډول بيا په بل ځای کې وايي پښتانه د چا باداري نه ده منلې او نه به يې ومني

پښتون نه شي باداري دچا منلی
چې اختيار يې دپردو وي پښتون نه دی

دننګ په باره کې وايي: هغه زوی چې پښتني مور زيږولی او پاللی وي هېڅکله به دبې ننګی د جام او به ونه چښي لکه چې وايي:

چې د ننګ پی يې رودلي وي له موره
هغه زوی به هېڅکله بې ننګي ونه کا

دا چې پښتون قام د هيچا غلامي نه مني نو ملنګ جان ځان د آزادی ملنګ بولي

ملنګ جان د آزادی د لار ملنګ يم
د ريا لپاره هېڅ ملنګي نه کړم

ښاغلی حبيب الله رفع وايي: د پښتونستان د مسئلې پر مهال د پاکستان او افغانستان حکومتونو د ځان په ګټه د خلکو د ذهنونو د تيارولو لپاره تبليغات کول، پداسې وخت کې هيچا د ملنګ جان د شعرونو مقابله او سيالي نه شوه کولای.د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال د پاکستان ولسمشر سکندر مرزا کابل ته راغی ښاغلی رفيع وايي:

((سکندر مرزا په افغانستان کې ميلمه و ددې لپاره چې د ميلمه بې عزتي ونه شي، نوحکومت ده ته ويلي وو چې تر هغې چې سکندر مرزا په افغانستان کې وی، ته د پښتونستان په اړه شعرونه مه وايه.))
(۷: ۱۱۷)

بختانی صاحب کيسه کوي، ملنګ جان چې دفتر ته راننوت،ډېر خفه و، ماترې د خفګان پوښتنه وکړه، ويې ويل چې ماته ويل شوي چې زه څو ورځې د پښتونستان په اړه بايد شعرونه ونه وايم، خو زه نه شم کولای چې غلی پاتې شم. بختانی صاحب زياتوي چې په همدې ورځ يې داشعر جوړ کړی و چې:

چا غوږ کې راته وويل چې جانان مه يادوه
دسرو شونډو له پاسه سور پېزوان مه يادونه (۸: ۲۶۲)

وايي چې ما ورته وويل چې له صراحت نه همدا کنايه ښه ده. که څه هم په دې کې د پښتونستان نوم نشته، خو دا خبره رسوا کوي چې تاته ويل شوي چې پښتونستان مه يادوه.))(۷: ۱۱۸)
په پای کې وايم، که چېرې مونږ ددې دوه کلمو( پښتو او پښتو پالنه) معنوی اړخ ته ځير شو نو پښتونواله زمونږ په ټولنه کې دغيرت، ننګ، پت، توره، شرافت، جرئت، شجاعت، تکړه توب، رېښتيا، فداکاري، ايمانداري، مقاومت، عزم، نارينتوب، مېړانه، تورزنتوب، پرځان باور، پرمسلمانی ټينګېدل.... ګڼل شوېده، دا چې هره ټولنه او دهغې وګړي ځانته بېل ولسي قانون لري، زمونږ د پښتني ټولنې دولسي قانون ډېره برخه همدا پښتونواله ده، نو ځکه ملنګ جان هم ورته خاصه پاملرنه کړېده.

په لار د قوميت کې به خپل ځان کړمه قربان
ماسر په لاس نيولی
په لاره دقوميت کې يمه تېر ترمال اوسر
دارسم د پښتون دی
په دغه لار که مړ شم دغه مرګ ګڼم بهتر
ازاد زمونږ ژوندون دی
بد خوا د خپل ملت به په بلا کې ګرفتار کړم
د تندر ځيني زيات يم
زما په نارينتوب باندې قايل دی ټول جهان
(۷: ۱۱۴، ۱۱۵)

تاريخپوه او ليکوال حبيب الله رفيع وايی چې ملنګ جان که څه هم نالوستی و خو په کابل راډيوکې دموسيقی د برخې دمشرولۍ تر څنګ د پښتونستان په اړه د يوه پروګرام د چلولو کار هم ور وسپارل شو او خپله ولسي شاعري يې د پښتونستان مسئلې ته ډالۍ کړه:

((د ده پېشرفت چې حکومت وکوت، خصوصاً سردار محمد داود خان ده ته توجه وکړه، حتی معلم يي ورته وټاکه چې دی باسواده شي ترڅو خپل شعرونه وليکي. په دې اساس دده شاعري ځپانده شاعري وه، ده واقعاً ژوره سياسي شاعري کړې، ولسي شاعران دموضوع عمق او ژورتيا ته نه ورلوېږي لاکن ده لوړ فکر او استعداد درلود، د موضوع ژورتيا ته ننوتلی او د پښتو نستان په موضوع يې ډېرې سندرې ويلي دي.)) (۷: ۱۱۵)

دهمدغسې سندرو يوه بېلګه د ملنګ جان دا شعر دی چې ډېرو سندرغاړو ويلي:

زما ځواني ډول کوي له پښتونواله سره
زه په پښتو او پښتونواله باندې سرورکوم
زما يې خټه لمده کړې دغيرت په اوبو
بې همتی نه ده لازم زما له شانه سره
دغيرت توره مې نيولې ده په خپلو اوږو
د سربازی ميدان ته وړم توره له ځانه سره
دوطن مينه مې رودلې ده دمور په شيدو
اوس يې خدمت ته يم حاضر له سراو ماله سره
زه ملنګ جان به هله سيال شمه له سياله سره
زما ځوانی ډول کوي له پښتونواله سره
مبارکي به خپل پردو ته په بستر ورکوم
زه په پښتو او پښتونواله باندې سر ورکوم
(۷: ۱۱۶)

ښاغلي ملنګ جان پخپله اولسي شاعرۍ کې پښتونواله ډېره ستايلې ده، پښتو او پښتوپالنه د ځان سينګار ګڼي او وايي چې زه په خپله پښتو او پښتونواله باندې سرورکوم زما د وجود خټه يي په ازل کې دغيرت په اوبو لمده کړېده نو بې غيرتي او بې همتي زما دشان سره مناسبه نه ده.
مرحوم ملنګ جان دښمن ته د سنګر پرېښودل دبې ننګی او بې پتی کاربولي.

په ژوندانه کې چاته کله خپل سنګر ورکوم
زه په پښتو او پښتونواله باندې سرورکوم

ښاغلي فاروق د حمزه صاحب ځيني نور بيتونه هم دهغه د قوميت دوستی دشواهدو په توګه تر تبصرې لاندې نيولي چې دلته يوائې هغه بيتونه رانقلوو:

دا سرکوزي پښتو نه عشقه ولې؟
ستا د زلمو هغه پګړی څه شوې؟

**شمله او اوښکه:** د پښتونولی په رواياتو کې د پګړی هسکه شمله د وياړ اويت نښه ده، داوښکي بهېدل د بې زړه توب او حتی د بې غيرتی نښه ګڼل کېږي.
ځکه خو حمزه بابا وايي:

ګويا تمنا وه څڅېدوته مې پرې نه ښوه
اوښکه پښتنه وه، بهيدو ته مې پرې نه ښوه
څو چې سمه، ماسره جلبل نه شوه په اور کې
نېغه مې شمله وه کږېدو ته مې پرې نه ښوه
( ۱۰: ۱۵۷)

مرکه او جرګه
د پښتونولی په دود او دستور کې مرکه او جرګه هم ځانګړی ځای لري، مرکه د مقابل لوري څخه د هيلي او غوښتني په خاطر او جرګه ددوه متقابلو لوريو ترمنځ د لانجو او دنګلو او هم د خپلمنځي پرېکړو او فيصلو په خاطر ترسره کېږي، ځکه نو حمزه بابا هم ځای په ځای په خپلو شعرونو کې د مرکو او جرګو يادونه کړېده، لکه چې وايي:

څو چې را غونډ په يو مرکز يې نه کړم
هرې ټپې ته دجـــــــرګو سره ځــــم
(۱: ۳۱۴)

**ننواتي:** ننواتي هم د پښتو نولی له ځانګړو اصولو څخه دي، چې د جګړې او زړه بداوي وروسته د پخلاينې او مقابل لوري څخه د بخښني په معنی کارول کېږي، حمزه بابا وايي:

چې ننواتي قبوله نه شوه
اوس څه جرګې شوې څه مرکي شوې

يا دا چې:

اوس خو دا غشي د بنو دې راته مه ګورتوه
په ننواتي زما اوښکې پښتني راځي
(۱: ۳۱۹)

**سپره(سوره):** د دوو پښتنو کورنيو ترمنځ ديو تن د وژلو يا قتل نه وروسته، د روغې جوړې او دښمنی د منځه وړلو په خاطر د (سپرې) په نامه يو دود شته او هغه دادی، چې د قاتل کورنی په خپله خور يا لور د مقتول کورنی ته په نکاح ورکوي، څو دواړو کورنيو ترمنځ د شريکې وينې خپلوي رامنځ ته شي، چې همدې نجلی ته سپره وايي...
دغه دود حمزه بابا په خپل شعر کې داسې را اخيستی دی:

که نظر مې تېری کړي پرې خپه يم
دواړه سترګې به قربان ستا په جمال کړم
تورپښتون به، بې له دې په بل څه سپين شي

ملنګ جان په ۱۹۵۷ م کال د ۴۳ کلونو په عمر د موټر په يوه حادثه کې ومړ او د بهسودو په چمپارکلي کې خاورو ته وسپارل شو.

**د غزل بابا حمزه شينواری او پښتو پالنه:**
حمزه د بازمير خان ملک زوی، دخيبر د تاريخي درې نوميالی شاعر، اديب داسلامی تصوف په فلسفه کې د ژور فکر خاوند او په معاصر ادب کې د غزل استاد و، چې په (۱۹۰۷) م کال په لواړګي (لنډي کوتل)کې زيږېدلی دی. دشپږو کالو په عمر د لواړګي په مدرسه کې داخل شو، داچې ددرس او مکتب سره يې جوړه نه وه نو په نهم ټولګي کې يې درس او مکتب پرېښود. له وړوکوالی نه يې شعرونه ويل. د ده پير شيخ عبدالستار چشتي ده ته هدايت وکړ چې د اردو په ځای خپلي مورنی ژبې ته توجه وکړه. حمزه د خپل پير په غوښتنه په پښتو کې شاعري پيل کړه اوډېر ژر په پښتو شاعری کې لوړو مدارجو ته ورسېد. ښاغلی حمزه د ادب په دواړو توکو نظم او نثر په ډېرو برخو کې ښه او پوخ لاس لري. دحمزه شينواري يو ناول( نوې چپې) نومېږي چې په ۱۹۵۷ م کال چاپ شو.
دناول مرکزی مفکوره او پيغام د پښتنو د وحدت موضوع او ديو ازاد او خپلواک اولس په توګه مطرح کېدل دي.
(۵: ۱۹۸، ۱۹۹)
اوس د حمزه په اشعارو کې پښتونولي او افغانيت څېړو:

**پښتونولي:** په دودونو او رواجونو کې ډېر داسې ځانګړي دودونه هم شته چې پښتون قوم يې د نورو اريايي قومونو څخه بېل او جلا ساتلی دی، لکه مېلمه پالنه، جرګه، ملاتړ، يرغل، ننګ، ننواتي، مرکه، سپره... او نور.
حمزه بابا خپله شاعری کې پښتونولي او افغانيت ته په لاندې انداز کتلي او په خپله ټوله شاعری کې ترپايه پښتونولی ته متعهد پاتي شوی دی لکه چې وايي:

زه چې پښتونواله له خپل زړه ويستلی نه شم
تا به اشنا پرېږدم خو رقيب زغملی نه شم ( ۱۰: ۱۵۶)

پښتون قوم چې هيچا ته سر نه ټيټوي په اړه يې وايي:

ما کوز ورته لېمه کړه زما سر نه ټيټېده شايد چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

داچې پښتانه په هيڅ وخت د خپلې پښتو او پښتونولی څخه نه تېرېږي بابا يې په اړه داسې وايي:

يو زما په پښتونواله چې اشنا غرض ونکړي
نور مې سر دی، که مې مال دی همه تاته نذرانه دي

بدرګه: دا کلمه په اصل کې د يوچا سره ملتيا يا يو ځای کېدو ته وايي، خو زمونږ په پښتني ټولنه کې بدرګه يو داسې فولکلوريک دود دی کله به چې يو چا د ښمني درلوده او کوم ځای به مېلمه شو بيا به دهغي سيمي خلک له نوموړي سره بدرګه کېده او مطلوب کس به يې د دښمنانو د ضرر او شر څخه د ژغورلو په نيت تر خپل کور او سيمي پورې رساوه، چې په دې باره کې حمزه بابا داسې ويلي.

ستا د تصور سره مې خوښ دی ارمانونه
څنګه مطمئن چې وي کاروان په بدرګه کې

حمزه بابا خپل تصوفي شعر کې پښتنی اصطلاحگانې راننویستلي، لکه چې وايي:

عشقه ته خود بين يې زه پښتون يمه
مانه ده ښودلې ګډا سترګو ته

داچې حمزه بابا پښتون دی او دپښتنو يعنې افغانانو سره يې مينه هم زياته ده، نو همدغه اسلامي فکر چې کوم دی، دغه پښتونولي او قوميت د ده په شعر کې بارزه نقطه ده، په يو شعر کې وايي چې:

ما حمزه ته يثربي باده خاونده
په ښاغلی پيمانه کې دافغان را
چې بې تا چا ته تيټ نه شي، ننګيالی زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وی، تفکر مې دپښتون کړه
(۷: ۱۶۶)

پايله

دغې څېړنې کې د پښتو معاصر ادب د ځلورو شاعرانو په نظمونو کې د پښتونولی بېلګې موندل شوي، چې يو يې نالوستی ولسي شاعر دی او درې نور يې لوستي دي. د دغې موضوع په بشپړېدو سره دې پايلې ته ورسېدم، چې ياده موضوع معاصر پښتو شعرکې څه چې په لرغوني او منځنی دورو کې هم په پراخ ډول راوړل شوي ده.

همدارنګه د قيام الدين خادم، حمزه شينواري، محمد امين ملنګ جان او وزير محمد ګل خان مومند پرته نور ډېر شاعران او ليکوال هم شته دي، چې د پښتو پالنې بېلګې يې په شاعری کې موندل کېږي. پښتو معاصر ادب چې د کميت او کيفيت له مخې يې لمن ډېره پراخه ده، د محمد امين ملنګ جان او وزير محمد ګل خان مومند په شعرونو کې ددغې موضوع يادونه بې ساري ده.

په دغې څېړنې کې د يادو شاعرانو د شعرونو ډېرې بېلګې موندل شوي، چې د مقالې د حوصلې سره سم ترې هماغومره را اخيستل شوي دي.

**مناقشه**

ښه به وای، چې د پښتو ادب د معاصرې دورې د ټولو شاعرانو په شعرونو کې د پښتوپالنې موضوع څېړل شوې وای مګر دا چاره د موضوع د ډېرې اوږدېدنې لامل ګرځېده.

يوه خبره څرګنده ده، چې په دې برخه کې لا تراوسه ډېرې څېړنې نه دي شوي نو ځکه خو دا کومه تقابلي څېړنه نه ده او نه هم دا ليکنه بسنه کوي. زموږ موخه دا ده، چې تر يوه بريده ددې موضوع د لا ډېرې څېړنې لاره هواره شي.

**اخځليکونه**


۱ـ بېنوا، عبدالروف. (۲۰۰۹م).اوسني ليکوال. کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.

۲ـ باجوړی، بريالی. (۲۰۱۸م). د پښتو ادبياتو تاريخ (د ويښتيا پړاو). کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.


دوه سپرې به درکوم تا به خوشال کړم
(۱۰: ۱۵۹)

**مېلمه پالنه:** د پښتونولی له مشهورو دودونو څخه يو هم د مېلمه پالنې دود دی، پښتانه د مېلمه زيات قدر او عزت کوي او مېلمه د خدای(ج) دوست ګڼي. بابا دغه دود ته په خپل شعر کې داسې اشاره کړېده:

مېلمه نظر ته هم دې، التفات چې څه ونه کړو
پرې ايښې پښتونوالي ته، پښتو ته مې زړه وشو
**(۱۰: ۱۶۰)**

**تربګني:** پښتو کې د تربګنی يو منفي دود هم شته، په مجازي معنی تربور دښمن ته وايي. حمزه بابا هم ځای په ځای پّ خپل شعر کې دپښتنو ترمنځ تربګنی ته داسې اشارې کړيدي:

رقيبه راشه چې ترمنځه تربګني کړو لرې
هغه ظالم خو تا په ما او ما په تا سوځوي
( ۱۰: ۱۶۱)

**لوظ او قول:** د پښتونولی په دود او دستور کې لوظ او قول هم ځانګړی ځای لري، د پښتنو ترمنځ دا خبرې ډېرې اورېدل کېږي، د پښتون يو قول او يو لوظ وي.د پښتون يوه خبره وي، پښتون له خپلې خبرې نه په شا کېږي.

دهغه سترګو پښتنې خبرې
ښنګه درنې وي د درنو خبرې
درنه به وانه ړومه يوه شوې که نه؟
درته مې وکړې په پښتو خبرې
(۱۰: ۱۶۱)

**دحمزه بابا په شاعری کې افغانيت:** د پښتونولی بل نوم افغانيت دی، همدا لامل دی چې حمزه بابا ځای ځای په خپلو شعرونو کې د پښتون او پښتونولی ترڅنګ د افغان او افغانيت کلمه هم کارولې ده، د بېلګې په توګه:

که درته ووايم چې ملسمان شه
قران رهبر دی پسې روان شه
نو ته يې نه مني چل مې دا وکه
چې درته ووايم، چې کلک افغان شه
(۱۰: ۱۶۲)

بل ځای داسې وايي:

هر کله داستان چې دافغان ليکم
يوه شه پت او ننګ د مسلمان ليکم
حمزه بابا د پښتو درواجولو او پرمختيا لپاره دا نارې وهلې
وايي اغيار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم
حمزه سفر که دحجاز وي نو هم
زه د پښتون د قافلو سره ځم
(۳: ۳۱۴)

٣- بېنوا، عبدالروف. (٢٠١۴م) . اوسني ليکوال (بشپړ متن).کندهلر : صداقت خپرندويه ټولنه.

۴- جبارخېل، عزيزالله .(٢٠١٧م). پښتو ژبې او ادب ته دوزير محمد ګل خان مومند خدمتونه. جلال اباد: ګودر خپرندويه ټولنه.

۵- خليل ، همېش. (٢٠١٠م). پښتانه ليکوال. پېښور : يونيورسټي پبلشرز.

۶- زېور، زېورالدين.(٢٠١۵م). دپښتو ادبياتو تاريخ (اوسنی دوره). جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

٧- مشال راديو. (٢٠١۵م) .اتلان. پېښور: عامر پرنټ اينډ پبلشرز.

٨- ملنګ جان. ( ١٩٩٨م).دملنګ جان خوږې نغمې. کابل: دعلامه سيد جمال الدين افغان فرهنګي ټولنه.

٩- يون، محمد اسمعيل. (٢٠١٧م) . دخادم نړی ليد.کابل: د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه.

١١٠ـ داطلاعاتو او فرهنګ رياست. (٢٠١٧م). يادې څېړې (دڅلورو سيمينارونو ټولګه). ننګرهار: داطلاعاتو او فرهنګ رياست.